WWW.CSRSKABUL.COM

## مرکز مطالعات استراتژیک و منطقوی
## د ستراتېژيکو او سيمه‌ييزو څېړنو مرکز

# تحلیل هفته

شماره: ۶۰ (از۱۲ الی ۱۹ دلو ۱۳۹۲ هـ ش)

این نشریه مجموعهٔ تحلیل رویدادهای مهم سیاسی و اقتصادی هفته‌وار است که به زبان‌های پشتو، دری، انگلیسی و عربی، توسط مرکز مطالعات استراتژیک و منطقوی تهیه و نشر می گردد، تا نهادهای سیاست‌گذار از آن استفاده نمایند.

---

## په دې ګڼه کې لاندې مطلبونه لولئ:

### ۱ – ولسمشر رښتیا وايي!

- له وروستيو مرکو او درېځونو داسې ښکاري، چې ولسمشر له امریکایانو سره هغه ستراتېژيك تړون نه لاسليکوي، چې په پايله کې به يې امریکا ته په افغانستان کې نهه۹ پوځي اډې په واک کې ورکړل شي. د لوېديځوالو هم نور نو له ولسمشر کرزي څخه دا تمه لنډه شوې چې تړون دې لاسليك کړي.

## ۲– ناکامی امریکا، پس از دوازده سال جنگ بی‌رحمانه در افغانستان!

- این بار اول هم نیست که مردم امریکا برخلاف جنگ جاری کاخ سفید در عراق و افغانستان، رأی منفی می‌دهند؛ از آغاز این جنگ ناکام در دوازده سال پیش تا اکنون چندمین بار است که مردم صلح دوست امریکا و سایر جهانیان آزاده علیه اقدامات تجاوزکارانه و جنگ طلبانهٔ سردمداران کاخ سفید و به خصوص علیه ستیزه‌جویان جمهوری خواه، صدای اعتراض خود را بلند نموده‌اند و مخالفت خود را با این اقدامات ابراز داشته‌اند، اما کجا است گوش شنوایی تا این فریادها را بشنود و به آن ارجی قایل گردد!

## ۳– د افغانستان وروستی سیاسي حالت او د سولې بهیر

- تر ټولو غوره لار همدا ده، چې د افغانستان په قضیه کې ټولې ښکېلې غاړې پر یوه دربیمگړې ډله هوکړه وکړي او د سولې په تېره دربدلی بهیر له کوم چل او فرېب ورکولو پرته بیا پیل شي.

## سیاسي:

## ولسمشر رښتیا وايي!

ذاکر جلالي



تېره اوونۍ افغان ولسمشر حامد کرزي له برېتانوی تلګراف ورځپاڼې سره په ځانګړې مرکه کې یو ځل بیا له امریکایانو سرټکولی. ښاغلي کرزي ویلي، چې په افغانستان کې یې د امریکایانو له لس کلن شتون څخه هېڅ خیر نه دی لیدلی؛ ده طالبان خپل ورونه، خو امریکایان رقیبان بللي دي. کرزي ویلي، چې له اوباما سره یې اووه میاشتې کېږي چې خبرې نه دي کړې. وروستي لیدل یې هم د منډېلا د جنازې په مراسمو کې وو.

ولسمشر له مرکې مخکې هم، په ارګ ماڼۍ کې له رسنیو سره د امریکا په تړاو شکایتونه وکړل. هغه خپل وضعیت له امیر عبدالرحمن خان سره ورته وباله، چې په ۱۸۹۳م کال کې برېتانویانو د ډیورند تړون لاسلیک ته اړوېست. ښاغلي کرزي وویل: "زه هم تر ورته فشاورنو لاندې یم، لکه امیر عبدالرحمن خان چې و."

له تلګراف سره د ولسمشر مرکه په رسنیو کې ډېره وشنل شوه. له دغې مرکې وروسته، امریکایي رسنیو یو بل راپور هم خپور کړ، چې پکې ویلي یې وو، چې کرزي له طالبانو سره پټ تماسونه نیولي دي. په داسې حال کې چې طالبانو د پټو تماسونو خبره د غربي لوري تبلیغات وبلل او طالبانو تل له کرزي سره مذاکرات رد کړي دي.

له وروستیو مرکو او درېځونو داسې ښکاري، چې ولسمشر له امریکایانو سره هغه ستراتېژیک تړون نه لاسلیکوي، چې په پایله کې به یې امریکا ته په افغانستان کې نهه۹ پوځي اډې په واک کې ورکړل شي. د لوېدیځوالو هم نور نو له ولسمشر کرزي څخه دا تمه لنډه شوې چې تړون دې لاسلیک کړي. دا مهال حامد کرزی تر سختو فشارونو لاندې دی؛ له یوې خوا غربي رسنۍ او له بلې خوا په کوردننه د غربي رسنیو لارویان دي، چې د ولسمشر په تړاو ناسم تبلیغات کوي او افواهاتو ته یې مخه کړې ده. د هغو کارپوهانو(!) ځواب به د غوربند وروستي ناورین ته څه

و، که د دوی په خوله امنيتي تړون لاسليک شوی وای؟ کرزي ته وروستيو پېښنو په ډاګه کړه، چې امنيتي تړون بايد په هېڅ صورت لاسليک نه کړي او پر خپل دريځ لاټينګ ودرېږي.

ولسمشر کرزي له تلګراف ورځپاڼې سره په مرکه کې دا هڅه هم کړې، چې طالبانو ته هم يو شين څراغ ورښکاره کړي، څو له ده سره خبرو ته کېني. مګر طالبان د سولې په تړاو د کرزي پر واک شک لري، هغوی ډاډه نه دي، چې که چېرې طالبان خپل شرايط له کرزي سره مطرح کړي، هغه يې دې د پلي کولو توان ولري. اصلاً ستونزه دا ده، چې کرزي يو مهال داسې انګېرلې وه، چې افغانستان شايد د امريکا له ستراتېژيکې ملګرتيا -چې دا نه ملګرتيا ده او نه هم ستراتېژيکه- پرته له منځه ولاړ شي. کرزي د امريکايانو په ډېرو نادودو هم سترګې پټې کړې او له زغمه يې کار واخېست، خو اوس اوس چې د دواړو لورو ترمنځ اړيکې تر ټولو ټيټ حالت ته رسېدلې دي، ولسمشر کرزی د زړه براسونه راوباسي او غواړي، چې له ولس سره رښتينې خبرې وکړي. ولسمشر په داسې حالت کې دی، چې نور يې نو زغم له لاسه ورکړی او د ولسمشرۍ په وروستيو دوو مياشتو کې هر هغه څه چې پرې تپل شوي، بربنډوي يې او ولس ترې خبروي. شايد همدا لامل وي، چې په دې وروستيو کې د عامو افغانانو له خوا او په تېره د مخالف لوري له خوا -په يو ډول- د ولسمشر له دريځه ملاتړ شوی دی.

## ناکامی امریکا، پس از دوازده سال جنگ بی‌رحمانه در افغانستان!

احمدضیاء رحیمزی، نویسنده و تحلیلگر مسائل سیاسی



آنچه طی هفتهٔ گذشته در نتیجهٔ نظرخواهی مرکز "پیو" و روزنامهٔ "یو اس ای تودی" امریکایی به میان آمد و نشان داد که نصف امریکایی‌ها می‌گویند: "ایالات متحده در جنگ افغانستان نتوانسته به اهداف خود برسد." در حقیقت سیلی محکمی است بر استراتژی‌ها وپلان گذاری‌های کاخ سفید، نه تنها در مورد افغانستان بلکه در مورد عراق و سایر کشورهای جهان.

بر اساس یافته‌های یک نظرسنجی که دو نهاد نامبردهٔ امریکایی در مورد نتایج مداخلات نظامی امریکا در عراق و افغانستان، پس از حملات یازدهم سپتمبر انجام داده‌اند، بین ۴۰ تا ۵۰ در صد از مردم امریکا گفته‌اند که ایالات متحده در تلاش‌های به دست آوردن اهداف جنگ افغانستان، ناکام مانده است.

هرچند در این نظرسنجی‌ها که در مورد تهاجم قشون امریکایی‌ها بر افغانستان و عراق هر دو صورت گرفته است، برخی از اتباع امریکایی تهاجم نظامی امریکا بر افغانستان را، به این دلیل توجیه کرده‌اند که حاکمیت طالبان در آن زمان، رهبر گروه القاعده را در خاک این کشور پناه داده بود، ولی در مورد عراق همه پرسش شونده‌گان، به صورت متفقانه به این نتیجه رسیده‌اند که تهاجم نظامی امریکا بر خاک عراق یک اشتباه محض بود.

این بار اول هم نیست که مردم امریکا برخلاف جنگ جاری کاخ سفید در عراق و افغانستان، رأی منفی می‌دهند؛ از آغاز این جنگ ناکام در دوازده سال پیش تا اکنون چندمین بار است که مردم صلح دوست امریکا و سایر جهانیان آزاده علیه اقدامات تجاوزکارانه و جنگ طلبانهٔ سردمداران کاخ سفید و به خصوص علیه ستیزه‌جویان جمهوری خواه، صدای اعتراض خود را بلند نموده‌اند و مخالفت خود را با این اقدامات ابراز داشته‌اند، اما کجا است گوش شنوایی تا این فریادها را بشنود و به آن ارجی قایل گردد!

طبیعی است که کشته شدن همه روزهٔ اتباع امریکایی در جنگ منفور این کشور، در تاریخ معاصر (به قول خود امریکایی‌ها) مصارف هنگفت مالی با همه فشارهایی که بر اقتصاد متزلزل امریکا جریان دارد و نفرت روز افزونی

که به دلیل ادامهٔ جنگ و کشتار همه روزهٔ مردمان بی‌گناه افغانستان و عراق، از یمن سیاست‌های خصمانه و تجاوزکارانهٔ کاخ سفید از بوش گرفته تا اوباما، نصیب مردم عامه امریکا می‌گردد و بی‌حیثیتی که برعلاوهٔ ترس و ارهاب فزاینده در کشورهای اسلامی، شامل حال اتباع عام امریکایی می‌گردد، بدون شک همه وهمه از نتایج و دست آوردهای جنگ ظالمانهٔ بیش از یک دهۀ امریکا در افغانستان و عراق شمرده می‌شود و ملت امریکا به خوبی می‌توانند نتایج آنرا درک وحس کنند.

از جانب دیگر امریکایی‌ها به وضوح مشاهده می‌کنند که امریکا از بوش گرفته تا اوباما در مدت بیش از یک دهه حضور جنگی و ملکی در افغانستان، به عوض کاهش در جنگ‌ها و خشونت‌ها که به ادعای خودشان، یکی از اهداف تهاجم شان بر افغانستان شمرده می‌شد، آنرا تشدید بخشیدند.

فضای آرامش نسبی که در سالیان اول پس از سقوط حکمروایی طالبان بر افغانستان، در اینجا حاکم بود، به دلیل سیاست‌های نادرست، مشکوک و دوپهلوی امریکا به چنان یک وحشتی مبدل گشت که اگر از یک سو خانه و کاشانهٔ مردم مظلوم افغانستان را به آتش کشید، از سوی دیگر رسوایی جهانی را برای امریکایی‌ها نیز به ارمغان آورد، تا حدیکه امروز رئیس جمهور حامد کرزی نزدیک ترین دوست و متحد امریکایی‌ها در افغانستان، نیز از سیاست‌های منافقانه و دوپهلوی امریکا به صراحت صحبت می‌کند و قبل از امضای پیمان امنیتی با آنها، خواهان ضمانت‌های جدی و قابل اجرا در پروسهٔ صلح کشور است.

نتایج نظرپرسی اخیر و نظرپرسی‌های مشابه آن، که گاه ناگاه از طریق نهادهای مدنی و رسانه‌یی امریکا صورت می‌گیرند، مسایلی نیستند که باید آنرا از دید یک نگاه ساده و سطحی دید، طبعاً نه تنها مردم امریکا بل همه جهانیان آزاده و انسان دوست، وضعیتی را که در نتیجهٔ تجاوز قبل از یک دهۀ امریکا بر عراق و افغانستان بوجود آمده، به چشم سر مشاهده می‌کنند و بزرگترین و قانع کننده‌ترین دلیل ناکامی امریکا در عراق و افغانستان، همین ادامهٔ جنگ و خونریزی و عدم متعهد بودن قصر سفید به هر گونه راهکاری که واقعاً به صلح وهمزیستی بیانجامد، است و بس؛ و اگر این وضعیت و این حضور نامیمون امریکا و متحدین اروپایی آن در عراق و افغانستان، به شکل کنونی ادامه داشته باشد، ضعف و ناکامی قصر سفید در این راستا، هرچه بیشتر نمایان‌تر خواهد شد.

# سوله:

## د افغانستان وروستی سیاسي حالت او د سولې بهیر

نظرمحمد مطمئن، لیکوال او شنونکی



دا چې په تېره څه باندې یوه لسیزه کې د ښاغلي کرزي هوډ یو پر بل پسې بدلون موندلی، همدا لامل دی چې ډېری افغانان د ښاغلي کرزي وروستیو غوښتونو او څرګندونو ته هم د شک په سترګه ګوري.

خو که ښاغلی کرزی پر خپل همدغه دریځ ودرېږي، چې له امریکا سره امنیتي تړون نه لاسلیک کوي او د رښتینې سولې لپاره له امریکا څخه د فعال رول لوبولو غوښتنه کوي، په هېواد کې دننه او بهر به، تر ډېره د خلکو ملاتړ خپل کړي.

**د سولې په هڅو کې نیمګړتیا:**

تېره اوونۍ (د ۲۰۱۴ د جنوری په ۲۸مه او ۲۹مه) د پاکستان په پلازمېنه اسلام آباد کې د فکر او عمل ادارې له خوا (په افغانستان کې د سولې او پخلاینې) تر نامه لاندې یو لوی کنفرانس جوړ شوی و، چې پکې د افغانستان او پاکستان د ډېرو مهمو مذهبي او سیاسي ګوندونو پر مشرانو سربېره، ځینې نورو سیاسي څېرو او څېړونکو هم ګډون کړی و.

د جماعت علماء ګوند مشر مولانا فضل الرحمن، د جماعت علماء (س) مشر مولانا سمیع الحق، د جماعت اسلامي مشر سید منور حسن، د تحریک انصاف ګوند مرستیال، د پښتونخوا ګوند مشر محمود خان اڅکزی، د عوامي نشنل ګوند مشر افراسیاب خټک، د خیبر پښتونخوا والي انجنیر شوکت خان، د اسلامي حزب (حکمتیار) استازی ډاکټر غیرت بهیر، په افغانستان کې له بهرنیو اډو سره د مخالفت جبهې مشر انجنیر احمدشاه احمدزی، د اسلامي حزب (ارغندیوال-کابل) استازی مولوي جانباز سرفراز، د سولې شورا غړو مولوي شهزاده شاهد او حاجي

دین محمد، د سولې شورا د مشر او اسلامي جمعیت په استازیتوب عبدالستار مراد، افغان لیکوال او څېړونکی استاد محمد زمان مزمل او دکتور صفت الله قانت، د ډېرو نورو ترڅنګ هغه کسان وو، چې د کنفرانس ګډونوالو ته یې ویناوې وکړې.

د ټولو نظر دا و، چې سوله او سولې ته ژمن پاتې کېدل لومړنی اړتیا ده، دا چې سوله څه ډول راځي، په دې اړه ډول ډول څرګندونې د یادو شوو کسانو له خوا وشوې، یوه خبره چې د دغو کسانو په ویناوو کې پرې توافق و، دا وه چې ترڅو چې په افغانستان کې سوله رانه شي، په پاکستان کې هم د سولې هڅې نتیجه نه ورکوي، دغه راز بله خبره دا وه، چې د فکر او عمل اداري مشر محمد اصف لقمان او همدا راز ځینو نورو ویناوالو اشاره ورته کوله، چې په کنفرانس کې یو مهم اړخ (طالبان) ګډون نه لري.

اوس ټول لوري دې پایلې ته رسېدلي دي، چې ترڅو چې طالبان د سولې په اړه کېدونکو خبرو اترو کې مخامخ برخه وانه خلي، د سولې هر ډول هڅې به نیمګړې وي.

**ښکېل لوري څه غواړي؟**

که ښاغلي کرزي دا دریځ، چې له بهرنیانو سره د تړون نه لاسلیکول او د سولې غوښته ده، څو کاله وړاندې نیولی وای، اوس به یې لېترلېږه په ولس کې خواخوږي درلودلای او دا ډول په عمل کې به یې ښودلي وای، چې سولې ته ژمن دی؛ حال دا چې په تېرو دولسو کلونو کې ډېری شنونکي په دې نظر دي، چې د سولې پر وړاندې تر ټولو لوی خنډ خپله ښاغلی کرزی و.

اوس چې د ولسمشریزو ټاکنو لپاره درې میاشتې پاتې دي، د ښاغلي کرزي دوره به ختمېږي او دی غواړي، هغه کار چې په دولسو کلونو کې یې ونه شو کړای، اوس یې په دریو میاشتو کې وکړي، خو دا به ډېره عجیبه وي.

اصلي خبره دا ده، چې لاهم امریکا، ولسمشر کرزی او نور ښکېل اړخونه سولې ته ژمن نه دي، امریکا غواړي چې سیاسي لوبه وکړي او طالبان د سولې په نوم، پر بې معنا او بې هدفه خبرو تېرباسي او بل لوري ته هڅه وکړي، چې په دې سره د طالبانو نظامي ضعف او سیاسي کمزورتیا نړیوالو ته وښیي.

ولسمشر کرزی هڅه کوي، چې په دې پلمه له امریکا، طالبانو او افغان ولس څخه امتیازات ترلاسه کړي، له امریکا څخه وغواړي چې د ده د خوښې کاندید راتلونکی ولسمشر شي، له طالبانو څخه وغواړي، چې له امریکا سره یې جګړه ده، د ده ننګه دې وکړي او په افغان حکومت کې ګډون وکړي، یا هم له ولس څخه د ټاکنو د ځنډېدلو امتیاز ترلاسه کړي، چې څو نور کلونه هم د واک پر ګدۍ کېني.

لاهم ښاغلی کرزی نه د سولې ټینګښت ته او نه هم د ټاکنو ترسره کېدلو ته ژمن ښکاري؛ ځکه چې سوله له پاکستان څخه غواړي او پاکستان هېڅکله نه شي کولای، چې په افغانستان کې سوله راولي؛ او نه هم پاکستان دومره واک او زور لري، چې پر طالبانو فشار راوړي، چې د سولې په نوم د افغان حکومت غوښتنې ومني؛ خو بیا هم داسې انګېرنې شته دي، چې اوسمهال ښاغلی کرزی د سولې اړوند خبرو ته مشروط تمایل لري.

ښاغلی کرزی خپل شرطونه لري، چې طالبانو ته یې په پټ ډول پیغام استولی دی، خو داسې برېښي چې طالبان به په هېڅ ډول په دغه حساس پړاو او د ښاغلي کرزي د کمزورتیا په وخت کې، د هغه شرطونو ته غوږ کې نه ږدي.

کرزی له مختلفو لورو څخه له دومره فشار سره مخ دی، چې اټکل یې ګران دی، د امریکا د ولسمشر او په ټول کې د دیموکراتانو فشار، په کوردننه د شمال ټلوالې فشارونه او دا ډول د طالبانو نظامي فشار.

خو بیا هم ښاغلی کرزی په دې هڅه کې دی، چې څه ډول واک انحصار کړي، کله چې اسلامي حزب (ارغندیوال) او شمال ټلوالې (عبدالله عبدالله) د راتلونکو ولسمشریزو ټاکنو لپاره ائتلاف وکړ، سملاسي یې قطب الدین هلال د هغوی په مقابل کې راپورته کړ، په اوسني وخت کې ښاغلی جمعه خان همدرد، قاضي محمد امین وقاد او محمد اکبر بارکزی هم هڅه کوي، چې د اسلامي حزب غړي له ارغندیوال څخه جلا کړي او په راتلونکو ټاکنو کې د ښاغلي کرزي په ګټه کمپاین وکړي.

تر اوسه خو امریکا او افغان حکومت ډېره هڅه وکړه، چې طالبان هم په ډول ډول نومونو او ګوندونو ووېشي ترڅو د سولې دروازه په یو مخیز ډول بنده شي؛ خو اوس داسې برېښي، چې د جګړې وخت مخ په ختمېدلو دی او سیاسي لوبه پیل شوې، چې سیاسي لوبه تر جګړې ډېره ګرانه ده او ډېر دقت غواړي.

### د سولې لپاره باید څه وشي؟

اوسمهال هم د طالبانو او امریکا ترمنځ د مخامخ خبرو او بیا وروسته د بین الافغاني تفاهم لپاره وخت او چانس شته دی؛ ځکه داسې ویل کېږي، چې د ګوانتانامو د بندیانو د تبادلې خبرې نردې شوې دي، چې د سولې لپاره یو ښه پرمختګ دی؛ طالبان او امریکا دواړه غواړي، چې بیا ځلې خبرې پیل شي، خو طالبان دا ځل مخکې له مخکې شرطونه لري، چې یو له هغو څخه امریکا باید ومني، د ګوانتانامو بندیانو خلاصون او تبادله، د ټاکنو لغوه کول او ځنډول، د امریکا له خوا په افغانستان کې د اډو نه غوښتل او له افغانستانه د امریکایي پوځیانو د وتلو اعلان.

له بلې خوا امریکا نور په افغانستان کې د درنې او اوږدې جګړې د دوام لپاره پیسې هم نه لري او نه هم د امریکایي سرتېرو د مرګ ژوبلې زغم لري، غواړي چې له جنګ څخه ووځي او د سولې لاره غوره کړي، ترڅو د یوه جوړجاړي له مخې له افغانستان څخه ووځي او دغه اوږده، ګرانه او له اقتصادي پلوه درنه جګړه پای ته ورسوي.

بلخوا طالبانو هم وخت ناوخت داسې څرګندونې کړې دي، چې نه غواړي هغه تېروتنې بیا تکرار شي، چې په نوییمه لسیزه کې مجاهدینو وکړې او د کورنۍ جګړې لامل شوې.

دا چې مذاکرات او خبرې په خپل ذات کې د جګړې برخه ده، که ښکېل اړخونه (طالبان، افغان حکومت او امریکا) جګړې ته دوام ورکوي، یو له بل سره د جګړې په ډګر کې زور ازمایي کوي، نو ترڅنګ یې باید خبرو ته هم کېني.

دغه راز افغان ولس او هغه سیاسي څېرې، چې غواړي افغانستان ته امن او سوله راشي، باید کرار کې نه نې، له ښکېلو اړخونو سره خبرې ولري، هغوی چمتو کړي چې سوله د ټولو په ګټه ده او بالاخره یوې رښتینې سولې ته لار هواره شي.

تر ټولو غوره لار همدا ده، چې د افغانستان په قضیه کې ټولې ښکېلې غاړې پر یوه دریېمګړې ډله هوکړه وکړي او د سولې په تېپه درېدلی بهیر له کوم چل او فرېب ورکولو پرته بیا پیل شي. پای